## زاني

له هغه نر شخه عبارت دی چې د زنا د فعل مرتکب شوی وي. دری:[زانی]

## زايد قيمت

هغه اضافي قيمت دی چې په ځينو مواردو کې پر اصلي قيمت علاوه د هغه ورکړه لازميږي. دری: [قيمت زايد]

## زايل

د يوه شي او يا يوه حق له مينځه تلل دي. دری: [زايل]

## زايل العقل

هغه شخص چې په سبب د اسبابو ئې خپل عقل له لاسه ورکړي وي. دری: [زايل العقل]

## زماني ګټه

د ګټو له هغه وېش څخه عبارت ده چې شريکان داسې موافقه وکړي چې هر يو به د ټاکلی مودې لپاره د ټول شريک مال له ګټو څخه په نوبتي توګه ګټه اخلي، چې له حصې سره يې متناسب وي. دری:[منافع زمانی]

## زنا

عبارت د نر اوښځې ترمنځ کامل جنسي اتصال دی چه د ازدواج د صحيح عقد څخه پرته سرته رسېدلی وي. دری: [زنا]

## زنځير ډوله وژنه

هغه ډول وژنه چې قاتل خپل هريو مقتول چې د يوې ګډې ځانګړتيا لرونکی دی د يوې، سلسلې په توګه په بېلابېلو وختونو کې وژني. دری: [قتل زنجيره ای]

## زندان

هغه ځای دی چې هلته هغه اشخاص چې د محکمې په وروستني حکم محکوم عليه ګڼل شوی وي، ساتل کيږي. دری:[زندان]

## زنداني

پر هغه حقيقي شخص اطلاق کېږي چې د قانون د حکمونو مطابق د با صلاحيته محکمې له خوا په زندان کې د يوې ټاکلې مودې د تېرولو په موخه محکوم شوی وي. دری:[زندانی]

## زنديق

هغه شخص دی چې د اسلام د دين معتقداتو او مقدساتو ته سپکاوی او توهين کوي. دری: [زنديق]

## زوايد

د يو شي د مخکني اجزاؤ، ملحقاتو او توابعو او يا د يوه ځاروي مخکنيو او يا نويو توابعو ته ويل کېږي. دری: [زوايد]

## زوج

هغه نارينه چې کومه ښځه يې د نکاح په قيد کې وي. دری:[زوج]

## زوجه

هغه ښځه چې مېړه يې کړی وي او د خپل مېړه د نکاح په عقد کې وي. دری: [زوجه]

## زوجيت

په شرعي او قانوني توګه د ښځې او ميړه اړيکې دي. دری: [زوجيت]

## زورور شفيع

هغه شخص چې په يو معين ملک کې د نورو اشخاصو په پرتله د شرعي او قانوني موجه دلايلو او لاملونو په اساس د شفعې د غوښتلو او لاس ته راوړلو د حق لرونکی وي. دری: [ شفيع قوی]

## زهر پېژندنه

له هغه علم څخه عبارت دی چې د زهرياتو او د هغې د بدو تاثيراتو څخه د انسان پر وجود بحث کوي. دری: [زهر شناسی]

## زیان بخښونکي عواقب

مالي ډېر زیات زیان له سل زره څخه تر یو ملیون افغـانیو پورې، د اشخاصو جسمي جراحت او د وسـایطو عارضـه داره کول دي. دری: [عواقب زیان بخش]

## زیانمنوونکي مالونه او خدمتونه

هغه استهلاکي مالونه او خدمتونـه دي چې مسـتهلکینو او په ټولیزه توګه ټولنې ته مضر وي.
دری: [اموال و خدمات مضر]

## زیرمه شوې پانګه

هغې راکدې پانګې تـه ویـل کیـږي چې د ضـرورت پـه وخت کې ترې استفاده کیږي. دری: [اندوخته سرمایه]